مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

حبیب الرحمن رحیمی ۲۰۲۲/۰۸/۲۸

# د پاتې شونو مدیریت

انساني ژوند د خپل پایښت لپاره لکه خوراک، څښاک ، پوښاک ،استوګناک او نورو ته اړتیا لري ، چې د دوی دا ډول اړتیاوې پوره کېدنه په لګښتونو ، مصارفو ، سرچینو ، توکو او نورو پورې تړلې ده ، چې ځینې یې له یو لړ پړاونو وروسته او ځینې یې نېغ په نېغه سمد لاسه له ګټې اخیستنې وړ نه وي،د طبیعت د ښکلا د پیکه کېدو او ګډوډۍ لامل کیږي چې د پاتې شونو په نوم سره یادیږي .

په نړیواله کچه هر کال ۲٫۶ تریلیون پونډه کثافات رامنځ ته کیږي کوم چې د طبیعي سرچینو لکه اوبو ، هوا ، خاورې او نورو د ککړتیا لامل کیږي ، د بشري ټولنې په ګډون د نورو ژوندیو موجوداتو ژوند تر ګواښ لاندې راولي ، د اندیښنې ځای دا دی چې پورتنې ارقام د مخکې لوړېدو په حال کې دي ، ځکه چې د بشري ټولنې د وګړو شمېر مخ پرزیاتېدو دی او د تل پاتې پرمختګ پر وړاندې خنډونه را ولاړوي نو د دې لپاره چې د دغه ستونزې د حل په موخه د نوموړې برخې پوهانو یو موډل رامنځ ته کړی دی.

نوموړی موډل چې د R3 په نوم پېژندل کیږي ، دا نښان په زیاتره تولیدي توکو لیدل کیږي کوم چې ډېر څه په خپل لمن کې رانغاړي او په ټوله کې په دریو برخو وېشل کیږي .

1. بیا کارول (Reuse)
2. کمول (Reduce)
3. بیا دورانول (Recycle)

بیا کارول (Reuse):


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

بشري ټولنه د خپل اړتیا وړ توکي له ښارونو، پلورنځیو ، مارکېټونو ،فابریکو او نورو څخه رانیسي کوم چې په لویه کچه کثافات لري ، د همدې کثافاتو د کمولو او له منځ وړلو لپاره یوه لار دا ده چې د هغه ډول لوښو ، توکواو نورو څخه په دې ډول ګټه واخستل شي چې تر اوږدې مودې لپاره وکارول شي ځکه چې دا کړنه له موږ سره دا مرسته کوي چې کثافات په کمي او کیفي لحاظ کمښت ومومي او له بله اړخه مو د پاک چاپېریال خیال ساتلی وي .

کمول (Reduce):

همدا شان د تر څنګ چې د پاتې شونو یوه لاره دا ده چې له توکو څخه بیا ګټه واخستل شي ،بله لار دا ده؛ چې په هر ډول لګښتونو لکه خوراک ، څښاک، پوښاک ، هستوګنځي او نورو کې کموالی راولي ، ځکه چې له اړتیا زیات لګښت د دې لامل کیږي چې کثافات له کمي او کیفي اړخه ډېروالی پیدا کړي کوم چې د اسلام له نظره اسراف بلل کیږي او سره له دې که چېرته مدیریت نشي د نورو ناوړه پېښو د پیدا کېدو لامل کیږي .

بیا دورانول ( (Recycle:

د کثافاتو د مدیریت د موډل له مخې تر دریمه کړنه بیا دورنوال دي ،ځکه چې په طبیعت کې د شته توکو عمر توپیر لري چې ځینې یې ډېر زر او په لنډ مهال کې له منځه ځي او یو شمېر نور یې ډېر وروسته او یا هم له منځه نه ځي کوم چې د پاتې شونو د ډېرښت لامل کیږي نو بشري ځواک اوس په دې توانېدلی دی چې د تو کې له موادو څخه ګټه واخلي اویوبل د اړتیا تو کی ترې جوړ کړي ، که چېرته دا اقدام په پریمانه کچه واخستل شي د کثافاتوڅخه به تر ډېره نړۍ خوندي شي .

دلته پوښتنه دا ده چې دا موډل ولې زرغون رنګ لري ؟

دا په دې موخه چې نړۍ په خپل طبیعي حالت باندې پاتې شي او راتلونکو نسلونو ته هم د یوې ریښتنې مور په حیث خد مت وکړي ، خپلې شته تل پاتې سرچینې لکه اوبه ، هوا، خاوره او نور په عادي ډول له ککړتیاوو څخه خوندي پاتې شي ، شین پوښښ د زیات شي ؛ چې د بیابان کېدو مخه ونیول شي او د تل پاتې پرمختک لپاره لاره پرانېسته پرېښودل شي .

د دې لپاره چې ضایعاتو څخه خوندي چاپېریال ولرو،باید د پاتې شونو په څرنګوالي او کچه فکر وشي په ډېره اسانه نورو توکو د تولید او جوړېدو لپاره خام مواد برابروي پر بنسټ یې د ګټې اخیستنې سرچینې او توکي رامنځ ته کېدلی شی کوم څه چې په دا ډول پروسه کې مرسته کولی شي د پاتې شونو په لاندې کتګوریو وېشل دي :

الف : د خځلو ښخونه:

- د خځلو په وړ ځای کې له اوبیزو سرچینوڅخه لیرې ښخول.
- خځلې باید له کلي یا د ژوند د ځای څخه لیرې ښخې کړل شي او لږترلږه ۲۰متره د هستوګنې له کورونوڅخه لیرې وي.
- د ځمکې د سطحې څخه لاندې وي.
- پر خځلو لږترلږه له ۲ - ۳ سانتي مترو خاورې واچول شي.

ب: سوځول:

- د سوځولو وړخځلې (کثافات) د ژوند د ځای څخه لیرې وسوځول شي.

ج :د خځلو څخه د خلاصون نورې لارې

- خځلې په یوه سرتړلې سطل کې ټولې کړئ او په منظم شکل سره یې د کلي څخه لیرې ښخې کړئ ترڅو د بوی د خپریدوا و د چاپېریال د ککړتیا څخه مخنیوی وشي.که چیرته خځلې، پاڼې،خرابې شوې میوې اوی یا هم



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

نباتي پاتې شوني وي هغوی په یوه ژورځای کې ځای پرځای کړئ که چیرته امکان ولري د خاورو سره یې ګډ کړئ چې دا توکي  په کود بدل او په کرنه کې تري ګټه اخیستل کیږي..
ځیني نورې نښې هم شته دي؛ چې د موږ سره د پاتې شونو د راټولو په برخه کې مرسته کولی شي
په هر حال پاتې شوني  چې دا پخپله پانګه ده ، کله چې پانګه په کار لویږي ، هلته بوختیا رامنځ ته کیږي ،کارګر ته اړتیا لیدل کیږي  ، عاید منځ ته راځي او په پایله کې چاپېریال پاکیږي .
په همدې پاردولتونو او خصوصي سکتور ته په کار ده چې په دې برخه کې هر ډول اسانتیاوې رامنځ ته او هېوادوال دې ته وهڅوي چې مستقیما په د برخه کې لاس په کار شي .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ